# د ناټو غړو هېوادونو یو ځل بیا د مخ پر زوال امریکا له جاذبې ځان ازاد نشو کړای



د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ د جون په ۲۹مه په بروکسل کې د ناټو د دفاع وزیرانو په ناسته کې وویل: د ناټو غړي هېوادونه څو زره تازه دمې ځواکونه افغانستان ته استوي. نوموړي زیاته کړه چې د ناټو دفاع وزیرانو یو ځل بیا ژمنه وکړه چې له افغانانو سره به یې د هېواد د امنیت په ټینګښت کې مرسته وکړي او پرې به نږدي چې افغانستان یو ځل بیا د «نړیوالو تروریستانو» په امن پټنځای بدل شي. سټولټنبرګ همدا راز ټینګار وکړ چې د ناټو اصلي دنده د افغانستان امنیتي ځواکونو ته مشوره ورکول او د هغوی روزنه ده او ناټو به بیا جګړه ییز ماموریت ته ور ونه ګرځي.

د ناټو سازمان د امریکا د خورا اوږدې جګړې په بهیر کې د ۱۳ کلن جنګي ماموریت تر پای ته رسېدو وروسته د ۲۰۱۵م د جنورۍ له لومړۍ نېټې د «غوڅ ملاتړ» په نامه خپل نوی ماموریت پیل کړ؛ چې دوه کاله وروسته د دغه تړون غړو هېوادونو یو ځل بیا د روزنې، مشورې ورکونې او له افغانستان سره د همکارۍ لپاره د څو زره ځواکونو په استولو هوکړه وکړه. دا په داسې حال کې ده چې افغانستان په وروستیو میاشتو کې د خونړیو بریدونو شاهد و، چې له امله یې سلګونه ملکي کسان مړه او ټپیان شول. ناټو هم په ښکاره په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د بیا حضور اساسي دلیل د «تروریزم» بیا راتګ او د ناامنیو زیاتوالی بولي. په افغانستان کې د وروستۍ میاشتې د موخنو «هدفمنو» چاودنو څېړه لکه څنګه چې له پېچلتیا او پراختیا یې ځرګندېږي، په امریکا پورې د تړلو استخباراتي شبکو له لوري پلان شوې وه او د دغو چاودنو په وسیله یې اروپایانو ته دا پیغام ورساوه چې په افغانستان کې له جګړې څخه په ځان کښلو تروریستان پیاوړي کېږي او تاسو اړ یاست چې له هغوی سره په لویو اروپایي ښارونو کې جګړه وکړئ، چې لګښت یې تر هغه زیات دی.

که څه هم اوس ټولو ته ثابته او روښانه شوې چې نننۍ امریکا نوره د شلمې پېړۍ د وروستیو امریکا نه ده. کور د ننه هم ورسته پاتې او چټله شوې او له ګڼو کورنیو ناورینونو څخه کړیږي، چې د وخت تېرېدو او د دغه ناورینونو پراخېدو، هراړخیز کېدو، اوږدېدو او د بل قدرت له لوري وژونکې ضربې ته اړتیا لري؛ تر څو عامه افکار په ښکاره احساس کړي چې څومره چې ښودل کېږي، امریکا نوره دومره ځواکمنه نه ده. خو له بده مرغه د امریکا په دا ډول هلاکېدونکو شرایطو کې یو ځل بیا د ناټو غړي هېوادونه د امریکا له لوري پر غوره شوي مسیر حرکت ته دوام ورکوي، چې دا خپله پر دې دلالت کوي چې د پانګوالي ایډیولوژۍ ټول پلي کوونکي او حاملین دولتونه له تدریجي انحطاط او زوال سره لاس او ګرېوان دي او په دوی کې داسې هېواد نشته چې د دغه نړیوال بدماش پر سر وروستۍ ضربه ووهي.

له بل لوري، ټاکل شوې چې امریکا به تر راتلونکې یوې میاشتې د افغانستان په اړه خپله نظامي ستراتیژي اعلان کړي، هغه ستراتیژي چې د امریکا د امنیتي او نظامي بنسټونو تر منځ د سخت کړکېچ او اختلاف له امله یې اعلان په ځلونو ځنډول شوی. مګر بیا هم امریکایان پر دې وتوانېدل چې د افغانستان لپاره د خپلې ستراتیژۍ تر اعلان وړاندې د افغانستان د جګړې پر وړاندې د اروپایانو «ناټو غړو هېوادونو» ژمنه تر لاسه کړي او هغوی د نورو تازه دمو ځواکونو استولو ته اړ کړي. امریکا له دې لارې تر لویې کچې په افغانستان کې د جګړې درونډ بار د دوی پر اوږو ورواچاوه، چې دا امریکا ته د دې چانس ورکوي، ترڅو خپله د سیمې، مرکزي اسیا او روسیې په کچه اوږدمهالو او ستراتیژیکو موخو ته جدي پاملرنه وکړي.

دلته د امریکا موخه دا ده چې په افغانستان کې د جګړې په دوام د ناټو غړي هېوادونه عملاً پر یوه بې پایه جګړه اخته کړي، تر څو په بین المللي ډګر کې د مخ پر زوال امریکا له جاذبې څخه د ازادۍ د تفکر فرصت ترې واخلي او د پیاوړې او واحدې اروپا اجنډا ترې هېره کړي. لکه څنګه چې د امریکا د دفاع وزیر جیمز متیس په جرات سره وویل: "زه د جګړې لپاره مهال بندي نه کوم، جګړه په خپل اساس کې یوه نه پیشبیني کېدونکې پدیده ده."

په داسي حال کې چې د قطر د سیاسي دفتر په ګډون د طالبانو ځواکمني ډلې له امریکا او د افغانستان دولت سره مشروطې سولې ته چمتو دي، خو بیا هم د طالبانو دا غوښتنه په پام کې نه نیول کېږي او حتی د امریکا له دغه سیاست سره په همغږۍ د طالبانو د بلې ډلې په وسیله ظاهراً سولې ته د قطر دفتر غیر مستقیم او مشروط چمتووالی ګواښل کېږي. د دې تر څنګ امریکا د طالبانو ډلې له ګواښ سره په یوه وخت کې د خراسان د داعش په نامه نوی ګواښ هم رامنځته کړی. که له طالبانو سره سوله هم وشي، بله ډله په کمین کې تیاره ناسته ده، چې د افغانستان امنیت ګډوډ کړي، حال دا چې د سولې د خبرو اترو په بهیر کې اصلاً د داعش نوم هم نه اخیستل کېږي.

له همدې امله د افغانستان جګړه د «تروریزم» پر وړاندې جګړه نه ده، بلکې خپله د امریکا او ناټو حضور په سیمه او افغانستان کې د ترور، وحشت، دولتي ځواکونو او وسله والو مخالفینو تر منځ د مسلمانوژني لامل شوی. د تروریزم پر وړاندې جګړه یوه پلمه ده، چې امریکا یې له لارې خپلې ستراتیژیکې او سیمه ییزې ګټې تعقیبوي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر- ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**

**د «الرایة» جریدې لپاره**